# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

دوکتور م ، عثمان تره کی

۰۶ مارچ ۲۰۱۲

# د ديورند کرښی د سيمی په ستراتژيک معادلاتو کی

زه نه غواړم چه د ديورند د کرښی په حقوقی اړخ باندی خبری وکړم . پدغه برخه کی افغانی پوهانو په کافی اندازه څيړني او بحثونه کړی دي .

غواړم د دي موضوع ارزونه د افغانستان، سيمی او نړی په اوسنی سياسی چاپيريال کی وکړم .

**افغانستان:**

د افغانستان د ننه د ديورند د کرښی د پروبلم د حل په اړه د حکومت او د ولس دريځ په مختلفو مواردو کی سره توپير لری.

الف . حکومت: افغانستان مرکزی ملی واکمنی نلری. د افغانستان د بهرنی سياست استقامت د نړيوال نظامی ائتلاف ( ن- ن- ا) له خوا ټاکل کيږی.

د دي کبله چه د افغانستان اوسنی بی وسی حکومت د ديورند د دواړو خواوو د قبايلی سيمو د وسله وال مقاومت تر ګوزارونو لاندی دی او ولسی ملاتړ نلری نو په هيڅ ډول د ديورند د کرښی په اړه ټينګ، ملی او د ولس د ملاتړ نه برخمن دريځ نشی نيولی .

د دری راتلونکو کلونو په ترڅ کی چه ن- ن- ا- په افغانستان کی حضور لری، په کافی اندازه وخت لرو چه د يو ملی، مرکزی او پياوړی حکومت چه د ن- ن- ا سره په مساوی حقوقی دريځ کی قرار ولری، خاوند شو . د ملی حکومت په جوړيدو سره د ديورند کرښي ، داسی د حل لاری راپيدا کيداي شی چه د افغانستان او پاکستان ګټی په کی خوندی ویِ.

کله چه موږ د افغانستان د ننه د یوه مرکزی پیاوړی حکومت د جوړیدو نه خبری کوومعنی یی داده چه له یوی خوا وسله وال مقاومت د نوی واکمنی نه ملاتړ وکی یعنی جګړه پای ته ورسیږی او له بلی خوا ټول موازی حکومتونه چه د خصوصی امنیتی کمپنیو، انجیو ګانو، او سیمه ایزوقومي پولیسو له طرفه د مرکزی حکومت د اتوریته په وړاندی چلنج جوړوی، منحل شی.

سره له دي چه اوسني افغانی کمزوری حکومت د هیواد د بهرنی سیاست د ټولو اړخونو د تنظیم صلاحیت نلری خو د لر او برو ولسونو تر منځ په فرهنګی، مذهبی او تبلیغاتی ساحاتو کی د اړیکو د ټینګیدو دنده سر ته رسولی شی .

ب . ولس: د افغانانو په منځ کی د دیورند د کرښی د قضیی د سوله ایز حل پلویان ډیري پښتانه دی چه د دیورند د کرښی په دواړو خواوو کی اوسیږی او د افغانستان د اوسنی واکمنی سره په جګړه کی بوخت دي.

په افغانستان کی د قامی او مذهبی لږکیو لکه تاجکانو او هزارګانو یوه برخه د مختلفو دلایلو په بنسټ باندی د دیورند د کرښی د داعیی په وړاندی بیتفاوته یا متردد دریځ لری. د مثال په توګه ځینی تاجکان چه د فارسی فرهنګ او سیاست تر اغیز لاندی راغلي دي د دیورند د کرښی د حذفولو سره، چه په ترڅ کی یی په ټولنه کی د پښتنو قومی او ورسره سیاسی وزنه زیاتیږی، ملی ضد دریځ لری.

د هزارګانو یوه برخه چه د ایران د سیمه ایز ستراتژی د لاسوند په توګه کارول کیږی ، د دیورند د دواړو خواوو ولسونو یو ځای کیدل د سنی مذهب د نفوذ و د زیاتوالی لامل ګنی او ورسره موافق نه ښکاری.

په هرحال ! د نیمی پیری راهیسی د دیورند معضله د افغانستان د بهرنی سیاست په اجندآ کی ځای موندلی او په یوه ملی داعیه بدله شویده.

کله چه موږ په افغانستان کی د بهرنیانو حضور د دوی د ستراتیژیکو موخو په چوکات کی، چه په کی افغانی لوری ته د خپلو ګټو د دفاع حق ندی ورکړل شوی، وڅیړو د دیورند د معضلی په اړه د ( ن- ن- ا ) د دریځ په وړاندی شکمن کیږو . دلته د افغانستان د سلامتیا په وړاندی د توطئی د تیوری احتمال مطرح کیږی چه په کی ځینی، په پردیو باندی خرڅ شوی غیر پښتني، سیاسی کړی هم لاس لرلی شی.

نوموړی کړی پښتانه دي ته تشویقوی چه د دیورند د داعیی په محور باندی راغونډ شی، تر څو چه په سویل کی د پښتنو د پاره د یو مرکزیت د جوړیدو په موازاتو کی، دوی وکولای شی د هیواد په شمال کی د بهرنیانو په ملاتړ د قومی لږکیو د پاره بل محوریت جوړ کړی . پدی ترتیب باندی د افغانستان سلامتیا تر ګواښ لاندی راوستل کیږی .

تیر میاشت په برلین کی د ځینو هیواد دشمنو کسانو د غوندی په وړاندی د افغانانو د ملی جذباتو نه دک غبرګون ، د توطیی تیوری له ماتی سره مخ کړ .

## د سیمی د هیوادونو دریځ:

پاکستان: د پاکستان ځینی اسلامی ګوندونه د هغی جملی نه جمعیت العلمای اسلام پاکستان چه د نظام په ننه حل او هضم شوی او د ګڼ شمیر دینی مدارسو اداری چاری په لاس کی لری ، د دینی مدارسو طالبان د اسلامی

انترناسیونالیزم تر جذباتو لاندی روزی تر څو چه په سیمه ایزو منازعاتو کی یی د اسلام د لشکر په حیث وکاروی.
پاکستانی چاروا کي او ځینی مذهبی مشران پدغه موضوع باندی، چه د دینی مدارسو شاګردان باید د نړیوال جهاد د ضوابطو سره سمبال شی تر څو چه د افغانستان او هندی کشمیر په جبهاتو کی د جګړی انګیزه ورسره وی، ګډ دریځ لری.
د پاکستان یو شمیر اسلامی ګوندونه د « دیوبند » د مکتب د مریدانو په حیث د بیلتانه ټولی هغه کرښی ردوی چه د ناسیونالیزم او قام تر نامه لاندی اسلامی نړی سره بیلوی . د همدغه اصل په بنسټ باندی پاکستانی چاروا کي مذهبی ګوندونه د پښتنو او بلوڅو د ملی ګرا ګوندونو په ضد کاروی او د ځینی اسلامی ګوندونو د دریځ نه دیورند کرښی ته د عالم اسلام د جلاوالی اوبیلتون په سترګه ګوری. افغانستان او هندی کشمیردار الحرب ګڼی.
په دي دری وروستیو لسیزو کی افغانان او افغانستان د پاکستان له خوا د یرغلګرو په وړاندی د مقدمی جبهی په حیث استعمال شوی دی . په ډاګه ویلی شو چه دومره چه افغانانو د پاکستان د ساتنی په مقصد قربانی ورکړی پاکستانیانو نده ورکړی. په بل عبارت څومره چه پاکستان د افغانانو د جهاد او قربانی نه د خپلو ګټو د تامین په مقصد کار اخیستی ده افغانانو ندی اخیستی . البته د دی نه هم انکار کولاي نشو چه د مهاجمینو په وړاندی دواړه ګاونډی هیوادونه ګډ دریځ لری.
د مقاومت، جهاد او مهاجرت بیساری تحرکات په عملی بڼه د دیورند د کرښی د له منځه وړو لامل شویدی.

ایران: سره له دی چه ایران د دیورند د معضلی په اړه خپل رسمی دریځ ندی څرګند کړی، خو د افغانانو په ګټه د دیورند د کرښی د معضلی د سوله ایز حل سره د ایران په ګاونډیتوب کی یو لوی او پیاوړی افغانستان رامنځته کیږی چه د یو ګاونډی د جنجال نه د خلاصیدو نه وروسته ، پام د هلمند اوبو کنترول خواته اړوی . د ساست په دګر کی  د دغه تریخ واقعیت په نظر کی نیولو سره چه هیڅ هیواد نه غواړی چه یو پیاوړی او ځواکمن ګاونډی ولری، ایران باید د دیورند د داعیی سره مخالف دریځ ولری.
خو که د دیورند د پروبلم په سر باندی د افغانستان او پاکستان تر منځ شخړه د دی لامل وګرځی چه د پاکستان د خاوری نه افغانستان خواته ترانزیتی لاری بندی شی، افغانستان ایران ته اړ کیږی. ایران کولی شی چه د افغانی اړخ د اړتیاو نه د افغانستان په وړاندی د یوه سیاسی فشار په توګه ګټه پورته کړی.

هندوستان: هندوستان د دیورند د کرښی د پروبلم په موضوع باندی د افغانستان د دریځ نه ملاتړ کوی. هندوستان د دیورند معضله د پاکستان په وړاندی د فشار د لاسوند په ډول استعمالوی.
د افغانستان د دری لسیزو په جګړه کی چه په کی جهادی کړی یو اړخ وو ، هندوستان د جګړی نه پدی مقصد باندی ګټه پورته کړی چه د کشمیر په جبهو کی د جهادیانو فشار کم شی . په بل عبارت کله چه هندوستان د دیورند د جنجال په اړوند د افغانستان څنګ ته دریږی، غواړی یوی خوا افغانان خوشاله وساتی او له بلی خوا د لر او بر په قبایلی سیمو کی د جګړی د اور په بل ساتلو سره د جهادیانو پام د کشمیر د جګړی نه بلی خواته راواړوی.
په اوسنیو شرایطو کی د هندوستان درېز سره له دی چه تکتیکی بڼه ولری د افغانستان په ګټه تماميږی. پدی شرط باندی چه افغانی لوری د خپل ګټی د دفاع په خاطر واک ولری .

## د نړیوال نظامی ائتلاف ستراتژیک پلان:

اوسمهال په سیمه کی د دیورند کرښه د ناتو په ستراتژیک پلان کی مطرح شویده. د نوموړی پلان په تنظیم او تطبیق کی افغانی لوری نه یوازی رول نلری بلکه دا احتمال شته چه د سیمی په ستراتژیک معاملاتو کی د نه کدون په سبب د بی وسی افغانستان په سر باندی معامله وشی.

د همدغه مقصد د پاره د یوه لسیزی راهیسی د افغانستان د سلامتیا ضامن، پیاوړی قومی ځواک تر، ګوزارونو لاندی نیول شوی او اوسنی حکومت کمزوری ساتل شوی دی.

همدغی موخی ته د رسیدو د پاره د واحد افغانستان ځینی ضد سیاسی کړیو په واکمنی د ننه او د باندی د ( ن- ن- ا) له خوا سیاسی، پولی او تبلیغاتی ملاتړ کیده -

په افغانستان کی د ځینو والیانو او د زون قوماندانانو د ناتو له خوا ټاکل او د مرکزی حکومت په وړاندی د هغوي استعمال په وجهه. دا احتمال هم شته چه په هره اندازه چه د دیورند معضله د دغسی حل خواته رانږدی کیږي چه د( ن- ن- ا ) ګټی په کی نه وی، بهرنیان د ساتل شوو جنګی ډلو ټپلو نه د افغانستان د جغرافیایی سلامتیا په وړاندی د یو لاسوند په توګه کار واخلی. جنګی دلی ټپلی د همدغه مقصد د پاره ساتل او نازول شویدی .

نو د یو مرکزی حکومت د جوړیدو په وړاندی چه د دیورند د معضلی په اړه د افغانستان ګټی په نظر کی ونیسی جنګی ډلي ټپلي چه په ځینو ولایتو نو کی په امنیتی او اداری دندو کی د بهرنیانو په وسیله ګمارل شوی او د دوی له خوا یي ملاتړ کیږی، لوی چلنج دی.

که ( ن- ن- ا ) غواړی چه افغانانو سره د دیورند د معضلی د حل په لاره کی چه په کی د دوستو هیوادونو یعنی افغانستان او پاکستان ګټی خوندی وی، جدی همکاری وکړي، باید د جنګی جنایت کارانو د ملاتړ نه لاس واخلی او د دوی له منځ نه موږ ته والی او قوماندان ونه ټاکی.

موږ اشغالګرو قوتونو ته په ډاګه څرګندوو چه افغانان د دیورند د معضلی د دغسی حل لاره چه په کی زموږ د هیواد ځمکنی بشپړتیا ته تاوان وی ، نه منی-

له بلی خوا باید امریکا او انډیوالان یی پدی باندی ښه ځان پوه کړی چه افغانان د دیورند د کرښی د ستونزی د حل په بدل کي د افغانستان قباله چا ته نه ورکوی-

د دیورند د کرښی قضیه د ( ن- ن ا ) په اجندا کی پدغسی شرایطو کی مطرح کیږی چه ناتو د لر او بر پښتنو سره په خونړی جګړه اخته ده . د دیورند په دواړو خواوو کی په زرګونو خلک وژل شویدی. د عام وژنی لړی د افغانستان د ننه د با پیلوته الوتکی او د باندی د بي پیلوته الوتکو د لاری ادامه لری. د ناتو د کړو وړو د کتنی سره موږ ته دا انتباه را پیداکیږی چه د لر او بر په قبایلی سیمو کی د ناتو اصلی موخه د ولسونو له منځه وړل دی نه د دیورند د کرښی حذفول- ناتو باید قبایلی سیمی دغه تاریخی « جنګی قلعه » د پاکستان دفاعی مقدمه کرښه او په ځینو مواردو کی ، د تروریزم ځاله، فتح کړی تر څو چه په داده زړه خپل عسکر د افغانستان نه وباسی !! . په تأسف سره چه ناتو د پروبلم د حل په مقصد د افغانی وسله وال مقاومت په وړاندی د جګړی له کبله د سوله ایزي لاري په ځاي جګړه ایزه لاره غوره کړیده -

اوس څه چه موږ ته حیاتی اهمیت لری، هغه دا ده چه د افغانستان نه د ناتو د پوځونو د وتلو نه وروسته باید په قبایلی سیمو کی د قدرت خلأ چه ورڅخه نړیوال تروریزم ګټه پورته کړی، رامنځته نشی-

افغانان هغه وخت د دیورند د استعماری کرښی د پروبلم په اړه جدی او رغنده دریځ نیولی شی چه د یوه متساوی الحقوق اړخ د دریځ نه د نورو هیوادونو او ټولنو سره په ګډه د سیمی د پروبلمونو د حل په مقصد ملګرتیا ولری .

اوسمهال دا رسالت لرو چه په موږ باندی د دیورند په نامه د تپل شوی کرښی، دا د پرنگیانو د ظلم او ناروا میراث، د کم او کیف پیغام د تبلیغاتو د لاری نوی نسل ته وروړسوو.

په افغانستان کی ۳۰ کلنه جگړه چه په کی لر او بر د جگړی په واحده جبهه بدل شوی دي، دغه واقعیت په گوته کوی چه د دیورند کرښه په عمل کی شته والی نلری.

اوس که ملگري ملتونه او ( ن- ن- ا ) چه په افغانستان کی فعال حضور لری د دیورند د معضلی د سولی ایز حل په مقصد د افغانستان او پاکستان سره د مرستی همت وکړی موږ ورته هرکلی وایو . خو پدی شرط باندی چه:

ـ افغانستان د ملی حاکمیت په درلودلو سره د خپلو گټو د دفاع حق ولری .

ـ د افغانستان ځمکنی بشپړتیا تضمین شی .

ـ د پاکستان مشروع غوښتنو ته ځواب وویل شی .

ـ د حل لاره سوله ایزه بڼه ولری .« پای » فرانسه . د مارچ پنځم۲۰۱۲ م کال

**یادداشت:**

احترام ما به شخص جناب داکتر صاحب روستارتره کی و تحلیل عالمانهٔ شان به ارتباط بخشی از قضیهٔ دیورند، باعث آن نمی گردد تا ننویسیم:

ما گذشته از آن که مواضع جناب داکتر صاحب را به ارتباط به پاسخگوئی کشانیدن جنگسلاران اتحاد شمال و اعوان انصارش مورد تأئید قرار می دهیم، به صراحت می افزائیم که جنایتکاران مقابل آنها اعم از طالب و یا گلبدین نیز به عین جرم باید به پاسخگوئی کشانیده شوند؛ از آن گذشته بیگانگان را در امور داخلی افغانستان صاحب رأی دانستن از طرف هر جانبی که صورت گیرد، برای ما غیر قابل قبول و محکوم است.

ادارهٔ پورتالAA-AA